CITY OF LONDON








# د ماشومانو د خوندیتوب کنفرانسونو د والدینو او پالونکو لپاره لارښود

د لندن ښار ښارګوټی

د ټولنې او ماشومانو د خدمتونو ډیپارټمنټ

# د ماشومانو د خونديتوب کنفرانسونه: د والدينو او پالونکو لپاره لارښود

د ماشوم د خونديتوب کنفرانس يوه ليدنه ده چې ستاسو د کورنۍ غړي (او ماشومان که مناسبه وي)، ملاتړ کوونکي، وکيلان او هغه متخصصين سره را يو ځای کوي چې ستاسو له ماشوم (ماشومانو) او کورنۍ سره ډېر ښکېل دي تر څو ستاسو د ماشوم د راتلونکي خونديتوب، روغتيا او ودې په اړه پرېکړې وکړي. کله چې داسې انديښنې موجودې وي چې ستاسو ماشوم ته زيان رسېدلی دی يا د زيان رسېدو له خطر سره مخ دی، په دې صورت کې دا کنفرانسونه په لار اچول کېږي.

ټولنيز کارکوونکي، روغتيايي کارکوونکي، ښوونکي او نور هغه کسان چې ستاسو ماشوم (ماشومان) او کورنۍ پېژني، هغوی به ګډون وکړي. مور، ټول والدين او سرپرستان هم بايد ګډون وکړو ځکه چې تاسو په دې برخه کې خورا مهم رول لوبوئ تر څو له مور سره مرسته وکړي چې پوه شو ستاسو د کورنۍ لپاره څه پېښېږي او څه ډول مور کولای شو د چارو په لا ښه کولو کې مرسته وکړو.

په کنفرانس کې به له ګډونوالو سره پر يوه پلان هوکړه وشي چې ستاسو د ماشوم (ماشومانو) د اړتياوو په پوره کولو کې به مرسته وکړي، هغوی به خوندي وساتي او د زيان خطر به را کم کړي. د ماشوم د خونديتوب کنفرانس د قانون يا محکمې د اقدام په اړه پرېکړې نه کوي يا دا چې ستاسو ماشوم (ماشومان) بايد چېرته ژوند وکړي. مګر که چېرته پلان د زيان د خطر په را کمولو کې بريالی نه وي، کېدای شي سپارښتنه وشي چې دا مورد په پام کې ونيول شي.

تاسو کولای شئ [يوه لنډه ويډيو وګورئ چې د ماشوم د خونديتوب کنفرانس پروسه](#) تشريح کوي.

## له کنفرانس څخه مخکې

تاسو ته به يا د پست يا برېښناليک له لارې ستاسو له ترجيح سره سم بلنه در واستول شي چې د کنفرانس د ترسره کېدو وخت او ځرنګوالی پکې تشريح کېږي. که تاسو کومه پوښتنه يا ځانګړې اړتياوې لرئ، مهرباني وکړئ په دې اړه له خپل ټولنيز کارکوونکي سره خبرې وکړئ.

له ټولو ګډون کوونکو څخه غوښتنه کېږي چې يو راپور وليکي او له ليدنې څخه يې مخکې له تاسو سره شريک کړي. که چېرته تاسو له ليدنې څخه مخکې راپورونه ونه ليدل، کولای شئ له کارکوونکو څخه يې وغواړئ. تاسو به ټول راپورونه د ليدنې پر ورځ وګورئ او تر هغې وروسته به د راپورونو کاپيانې د ليدنو له مهمو ټکو سره در واستول شي. تاسو نبايد د کنفرانس په جريان کې حيران شئ يا نوي معلومات واورئ او تاسو به فرصت ولرئ تر څو د معلوماتو په اړه پوښتنه وکړئ.

## په کنفرانس کې به نور څوک وي؟

کنفرانس به د خپلواک رييس له لوري رهبري شي. تاسو به د کنفرانس تر ليدنې د مخه فرصت ولرئ چې په يوازې توګه له رييس سره وګورئ. ستاسو د ماشوم (ماشومانو) نظرونه به هم په کنفرانس کې يا د هغوی په خپل ګډون سره (که مناسب وي) يا د يوه ټولنيز کارکوونکي يا خپلواک وکيل له لارې شريک شي.

تاسو کولای شئ يو څوک ولرئ چې په کنفرانس کې مرسته درسره وکړي لکه د کورنۍ يو غړی، ملګری يا وکيل. دا چې په دې ليدنو کې ځينې وخت پر شخصي معلوماتو بحث کېږي، دا مهمه ده چې پر هغه شخص باور ولرئ چې له تاسو سره په کنفرانس کې ګډون کوي تر څو دغه معلومات واوري او هغه محرم وساتي.

هغو متخصصينو ته به بلنه ورکړل شي چې ستاسو له ماشوم او کورنۍ سره کار کوي. که چېرته داسې متخصصين وي چې تاسو فکر کوئ هغوی ته بلنه ورکول مهم دي، مهرباني وکړئ خپل ټولنيز کارکوونکي ته وواياست. ستاسو د ماشوم (ماشومانو) ټولنيز کارکوونکی به تل د ماشوم د خونديتوب په کنفرانس کې موجود وي. د معمول په توګه به يو ښوونکی، د ښوونځي يوه نرسه يا روغتيايي ناظر ګډون وکړي. د پوليسو يو استازی به تل د ماشوم د خونديتوب په لومړني کنفرانس کې ګډون وکړي او ستاسو له عمومي معالج څخه به معلومات وغوښتل شي.

## د ماشوم د خونديتوب کنفرانس په ورځ څه پېښېږي؟

خپلواک رييس به له تاسو سره تر اصلي ليدنې د مخه وګوري تر څو له تاسو سره وپېژني، تاسو ته به تشريح کړي چې کنفرانس څه ډول پر مخ ځي او په دې اړه به خبري درسره وکړي چې تاسو څه ډول غواړئ تر څو په بحث کې ګډون وکړئ او حساس مسايل څنګه په غوره ډول حل کېدای شي.

د کنفرانس په پيل کې به ټول ګډون کوونکي خپل ځانونه معرفي کړي او له متخصصينو څخه به رييس غوښتنه وکړي تر څو د خپلو راپورونو د مهمو برخو لنډيز وړاندې کړي. تاسو ته به بلنه درکړل شي تر څو په دې بحث کې ګډون وکړئ.

د ليدنې په جريان کې پر څلورو کليدي پوښتنو غور کېږي او هره يوه د دې لپاره پوښتل کېږي چې په دې برخه کې همکاري وکړي:

- ستاسو په کورنۍ کې څه ښه روان دي؟
- ستاسو د ماشوم (ماشومانو) او کورنۍ په تړاو زموږ اندېښنه څه ده؟
- څه باید وشي تر څو ډاډ حاصل شي چې ستاسو ماشوم (ماشومان) خوندي دي او د راتلونکي لپاره پرې ښه پام کېږي؟
- پر کومو معلوماتو هوکړه نه ده شوې او باید په اړه يې وضاحت ورکړل شي؟

له تاسو او نورو حاضرينو سره به يو پلان جوړ شي، تر هغې وروسته به په دې اړه تصميم ونيول شي چې ايا ستاسو ماشوم (ماشومانو) ته د زيان خطر په کافي اندازه دومره لوړ دی چې پلان بايد د ماشوم د خونديتوب حالت ولري که نه. ستاسو په ګډون له هر حاضر کس څخه غوښتنه کېږي تر څو په دې اړه يو نظر ورکړي.

## د ماشوم د خوندیتوب کنفرانس څه شی دی؟

د ماشوم د خونديتوب پلان موخه دا ده چې ستاسو ماشوم (ماشومانو) او تاسو ته ملاتړ چمتو کړي تر څو ډاډ حاصل شي چې ستاسو ماشوم (ماشومان) له زيان څخه خوندي ساتل کېږي او خطرونه را کمېږي. زموږ موخه دا ده چې تاسو او ستاسو ماشوم (ماشومان) ستاسو د پلان په اړه تصميم نيونه کې ښکېل ياست.

که چېرته پرېکړه وشي چې پلان به د ماشوم د خونديتوب پلان وي، د خلکو يوه اصلي ډله به په ګوته شي چې هغوی به په منظم ډول ليدنې کوي. په دې کې تاسو او ستاسو د کورنۍ ملاتړي غړي او ملګري هم شامل دي، همدارنګه متخصصين. د اصلي ګروپ رول دا دی تر څو په جزئياتو سره کار وکړي چې پلان به څه ډول کار کوي او پرمختګ به اندازه کوي.

کېدای شي پر دې هوکړه وشي چې ستاسو ماشوم به ماشوم د خونديتوب پلان ته اړتيا ونلري، مګر پرېکړې مشخصه کړې ده چې ملاتړ موجود دی او دا به ستاسو کورنۍ ته ګټه ورسوي. که داسې وي، کېدای شي د اړمن ماشوم پلان ترتيب شي.

## له کنفرانس څخه وروسته څه پېښيږي؟

له کنفرانس څخه وروسته به تاسو ته د ليدنې او د پلان ليکلی ريکارډ در واستول شي. که چېرته د ماشوم د خونديتوب پلان جوړ شو، له تاسو څخه به غوښتنه وشي تر څو د اصلي ګروپ له نورو غړيو سره په منظم ډول په ليدنو کې ګډون وکړئ. په دې ليدنو کې به تاسو پلان ته کتنه وکړئ او پر دې به بحث وکړئ چې د په ګوته شويو اقداماتو په تړاو څه پرمختګ شوی دی. اصلي ګروپ به د لومړني کنفرانس په لسو کاري ورځو کې سره وګوري او بيا به په معمولو زماني دورو (معمولاً شپږ اونۍ) کې د راتلونکي کنفرانس تر ليدنې پورې سره وګوري.

درې مياشتې وروسته به د بياکتنې يو کنفرانس ترسره شي او تر هغې وروسته به لږ تر لږه په هرو شپږو مياشتو کې ترسره شي تر څو خطرونه را کم شي او ټول داسې احساس وکړي چې د ماشوم د خونديتوب پلان کېدای شي پای ته ورسېږي. په هر کنفرانس کې يو تصميم په دې اړه نيول کېږي چې ايا د ماشوم د خونديتوب پلان ته لا هم اړتيا ده تر څو ستاسو ماشوم (ماشومان) خوندي وساتل شي.

## تاسو له موږ څخه څه تمه لرلای شئ؟

موږ غواړو له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره په ګډه کار وکړو تر څو ستاسو د قوت ټکي وپېژنو او پر دې پوه شو چې څه ښه روان دي. د والدينو يا پالونکي په توګه تاسو بايد تمه ولرئ چې:

- خبره مو واورېدل شي
- په درناوي چلند درسره وشي
- په پرېکړو کې ښکېل شئ
- هر هغه مرسته ترلاسه کړئ چې تاسو ته په منل شويو زماني مودو کې وړانديز شوې ده
- له کنفرانسونو څخه مخکې د ټولو راپورونو کاپياني ترلاسه کړئ (له لومړني کنفرانس څخه دوه کاري ورځې مخکې او د بياکتنې له کنفرانس څخه پنځه کاري ورځې مخکې)
- له کنفرانس څخه وروسته د 15 ورځو په جريان کې د کنفرانس د مهمو ټکو يوه کاپي ترلاسه کړئ

## موږ له تاسو څخه څه تمه لرو؟

موږ غوښتنه کوو چې تاسو:

- کنفرانس ته پر وخت حاضر شئ تر څو ډاډمن کړئ چې له رييس سره د ليدنې لپاره کافي وخت لرئ

- ډاډمن کړئ چې تاسو له ليدني څخه مخکې د ماشوم پالنې تاپباوې نيولې دي مګر دا چې هوکړه شوې وې ستاسو ماشوم (ماشومان) به په کنفرانس کې ګډون وکړي او خپل نظرونه به شريک کړي. موږ د اړتيا په صورت کې د ماشوم پالنې په برخه کې مرسته کولای شو، په دې اړه له خپل ټولنيز کارکوونکي سره خبرې وکړئ
- د هر ډول ځانګړو اړتياوو په اړه موږ ته د مخه خبر راکړئ چې کېدای شي تاسو ورته اړتيا لرئ لکه د اورېدنې کړی، ژباړونکي، يا ويلچير ته لاسرسی
- له ليدني څخه مخکې يا د ليدني په جريان کې نشه يي توکي يا الکول مه کاروئ
- د نورو نظرونه واورئ
- په مؤدبانه توګه عمل کوئ. موږ غوسه نه زغمو او رييس کولای شي د ليدني د پای ته رسولو پرېکړه وکړي يا له تاسو څخه وغواړي چې ووځئ

## ستاسو حقونه

تاسو حق لرئ چې له سلاکار څخه سلا مشوره ترلاسه کړئ. ستاسو سلاکار کولای شي په ليدنه کې ګډون وکړي مګر په بحث يا تصميم نيونه کې ګډون نشي کولای.

تاسو کولای شئ د حقوقي مسايلو په اړه له City Advice څخه سلا مشوره ترلاسه کړئ. **02073922919** شمېرې ته زنګ ووهئ (له دوشنبې تر جمعې، د سهار له 10 د غرمې تر 1 بجې او د غرمې له 2 څخه تر 4 بجو پورې) يا:

- **07432658083** شمېرې ته پيغام واستوئ
- City Advice ته برېښناليک واستوئ

که تاسو د وکالت خپلواک ملاتړ ته اړتيا لرئ، لاندې ځينې ابجنسۍ دي چې تاسو اړيکه ورسره نيولای شئ يا له خپل ټولنيز کارکوونکي سره خبرې وکړئ. هغه کولای شي له تاسو سره د سلاکار په موندلو کې مرسته وکړي.

- City Of London | Home | POhWER
- وکالت، مرسته او سلا مشوره - د والدينو، کورنۍ او ملاتړو شبکه (pfan.uk)
- د ښځو لپاره حقوقي اقدام
- وکيل څنګه ومومو - ذهن
- وکالت او ښکېلتيا | VoiceAbility
- وکالت | Mencap
- د والدينو لپاره وکيلان - د کورنۍ د حقونو ګروپ (frg.org.uk)
- يو څوک چې ستاسو په استازيتوب خبرې کوي (وکيل) - د ټولنيزې پاملرنې او ملاتړ لارښود - NHS (www.nhs.uk)

## اړيکه

که تاسو غواړئ د ماشوم د خونديتوب پر کنفرانس يا د دې پروسې په پر کومه برخه بحث وکړئ، مهرباني وکړئ له خپل ټولنيز کارکوونکي يا د ماشوم د خونديتوب د خپلواک مسوول سره د Children.Duty@cityoflondon.gov.uk له لارې اړيکه ونيسئ.

## د نژاد پالنې ضد تګلاره، مساوات او تنوع

د لندن ښار ژمن دی چې د هر راز نژاد پالنې، تبعيض او نابرابرۍ مخنيوی وکړي. موږ پوهېږو چې د نژاد او کلتور پر بنسټ کلېشې او تعصبات - په آګاهانه او ناآګاهانه توګه - زموږ په ټولنه او بنسټونو کې د نژادپالنې په زېږبناوو کې دي او کېدای شي چې موږ ټول ورسره مخ شو. له همدې امله د کنفرانس له ټولو ګډونوالو څخه تمه کېږي چې ستاسو له ماشوم (ماشومانو) او کورنۍ سره په کار کولو او د هغوی د ابجنسيو د پراخو اقداماتو او پروسېجرونو په کچه د نژادپالنې او تعصب پايلې په فعاله توګه په پام کې ونيسي.

که چېرته تاسو په کنفرانس کې يا تر دې په پراخه کچه د کوم متخصص د چلند په اړه اندېښنې لرئ، له خپل ټولنيز کارکوونکي يا خپلواک مشر سره يې مطرح کړئ.

که تاسو دا معلومات په متفاوته بڼه کې غواړئ، لکه غږيز ريکارډ، يا په کومه بله ژبه، مهرباني وکړئ له خپل ټولنيز کارکوونکي سره اړيکه ټينګه کړئ.

## شکایتونه

که تاسو غواړئ په کومه برخه کې د ماشوم د خوندیتوب د کنفرانس په اړه شکایت وکړئ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ: د شکایتونو له افسر سره په **02073323498** شمېره یا CYPScomplaints@cityoflondon.gov.uk برېښنالیک